**مطبوعاتي اعلاميه**

**په افغانستان كې د كوكنارو د كښت د كموالی له امله د ترياكو په توليد كې نړيوال كموالی**
**افغانستان د نشه يې توكو د ناوړه كاروني او قاچاق پرضد نړيواله ورځ نمانځي (د جون ۲۶)**

كابل، د ۲۰۰۹ كال د جون ۲۵ نېټه- د مخدره توكو د ۲۰۰۹ كال نړيوال راپور چې پرون په واشنګټن ډی سي كې د ملګرو ملتونو د سازمان د مخدره توكو او جرمونو سره د مبارزې د دفتر له خوا خپور شو دا جوتوي چې نړيوال ماركيټونه د كوكائين اپيون او چرسو لپاره ثابت دي او كه په تنزل كې، په داسې حال كې چې د مصنوعي مخدره توكو توليد او كارونه داسې ښكاري چې په پرمختللي نړۍ كې زياتيږي.
دغه راپور وايي چې په نړيواله كچه د ترياكو د كښت لړوالی د ۱۸۹۰۰۰ هكتارو په اندازه په ۲۰۰۸ كال كې و، چې دا زياتره په افغانستان كې د كښت د ساحې له كموالی په نتيجه كې دی. د لا زايت مثبت بدلون په توګه يو اين او ډی سی د دې اټكل كوي چې د هغو افغانانو شميره چې د ترياكو په كښت بوخت دي د ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ كلونو تر منځ په سلو كې ۲۸ را پريوتي ده. د بده مرغه دغه جريان بايد د هغه زيات خطر په وړاندې وي چې د افغانستان امنيت او پرمختيا ته متوجه دی او دا چې د مخدره توكو سوداګري لا هم دوام لري. جان لوک لو ماهيو د افغانستان لپاره د يو اين او ډی سی استازی د دې يادونه وكړه چې: "لا هم زيات كمښت ته اړتيا ده چې د افغانستان د ترياكو د اقتصاد له امله انفرادي، ټولنيز، اقتصادي او سياسي تاوان كنټرول شي.
په وروستيو كلونو كې د مخدره توكو توليد له تقاضا څخه زيات و. د يو اين او ډی سي ارزونه دا ده چې په افغانستان او ګاونډيو هيوادونو كې بزګرانو او سوداګرو په سل هاوو تنه ترياک زيرمه كړی دي. ښاغلی ليماهيو وويل چې: "زيرمې به د هيروينو په توليد كې په زياته پيمانه مرسته وكړي، بې له دې چې د كرلو په اړه تمايلات په نظر كې ونيسو. دغه خبره د افغانستان او ګاونډيو هيوادو لپاره بد زيری دی، ځكه په معمولي ډول موږ دې خبرې ته پام نه وي چې يوازې تقاضا نه ده چې زيرمه ډيروي، بلكه زيرمې هم تقاضا زيروي. د نورو فسادونو ترڅنګ لكه جنايت او اداري فساد يا بډې اخيستل، دغه ډول زيرمې هم په افغانستان كې د مخدره توكو لپاره په تقاضا كې زياتوالی راولي."
يو اين او ډی سي په افغانستان كې په ۲۰۰۹ كال كې د مخدره توكو د استعمال په اړه يوه سروې كوي او ددې تمه كيږي چې سروې دې توكو ته په تقاضا كې بې ساری ډيروالی ځرګند كړي. د هيروينو زياتوالی ددې سبب ګرځيدلی چې په افغانستان او ګاونډيو ملكونو كې د مخدره توكو د استعمال په طريقه كې بدلون راشي، يعني په دوديز ډول له څكولو او دخولې له لارې له خوړلو څخه به تزريق كولو باندې اوښتي ده. يو اين او ډی سي موندلې ده چې نښه كوونكی په افغانستان كې ډيرې هغه راستنېدونكی دی چې له ګاونډيو هيوادونو څخه راګيرځيدلی. تزريق كول د معتادو كسانو روغتيا د ايډز د ناروغۍ په خپريدلو سره نوره هم له خطر سره مخامخ كړې ده. د معتادو كسانو ډير والی دغه خطر په دې ملک كې ځرګندوي.
په عمده توګه، هغه پيسې او اداري فساد چې د مخدره توكو د سوداګرې څخه رامنځ ته كيږي ښه حكومت كمزوری كوي، د افغان حكومت سره نا اميدي راغونډوي او د ياغيانو د تمويل لپاره يوه ګټوره سرچينه برابروي. په افغانستان كې د مخدره توكو سوداګرې ټول نور پرمختګ او امنيتي مسايل د يو بل څخه بيلوي. دا تګلاره مثبته خو فرصتونه كم دي. پرمختګ بايد ژر تر ژره يو لاس او موټي شي او كه چيرې موږ غواړو چې د ترياكو اقتصاد د يوه حياتي ګواښ په حيث له منځه يوسو نو موږ بايد پروسه چټكه كړو، ښاغلي لو ماهيو وويل.

---

د ملګرو ملتونو د مخدره توكو او جرمونو دفتر د ۲۰۰۹ كال د مخدره توكو د نړيوال كمپاين رهبري كوي څو د نا قانونه مخدره توكو د سترو ننګونو په اړه چې ټولني او په خاص ډول ځوانانو ته متوجه كيږي، پوهاوي لوړ كړي. د دې كمپاين موخه د ملاتړ برابرول او همدارنګه خلكو ته د مخدره توكو د ناوړه كاروني او قاچاق په هكله الهام وركول دی.

دا كمپاين ځوانان دې ته هڅوي چې خپلې روغتيا ته لومړيتوب او مخدره توكو ته "نه" و وايي.
http://www.unodc.org/drugs/

اړيكه: هيله نوا علم، بهرنی اړيكې، يو اين او ډی سي، بريښناليک: hila-nawa.alam@unodc.org
ګرځنده:+93799129291